خالق رشيد

۳۰ اپریل ۲۰۱٦

# دتورې سپی دوه وروستي کونګري...

لنډه کیسه

زما نیکه د خدای وبښي ، یوکال زموږ پرکلي باندې د بارانو نو او سیلابونو له لاسه ډیره بده ورځ راغله، ګرده ورځ به دی و او جومات ، دی به و او د قرآن شریف تلاوت ، دی به و اودعاوې ، کله کله خو به دومره په قهرشو چې د نه ویلو تیرې زیاتې به یې ترخولې راووتې ، داسې چې زموږ پر بدن به یې سږه لړزه راوسته ، خو موږ به یوازې دده خبره اوریده او ځانونه به مو دده د قهرپرمهال غلي نیولي وو ، ځکه بیریدو چې اوس داخپل ډک زړه یوځلې پرموږ را تش نه کړي ، آسمان ته یې وکتل، چې د ږنګی او تتې وریځې غونډاري به وربښکاره شو ، نو بیا به یې ترخوله راووتل :

ـ خدایه ته یې وچه تیره کړې ،چې ښاښکې هم په سترګو ونه وینو ...

په هغه کال زموږ پرکلي باندې پرله پسې بارانو اوسیلابو بنې نخرې وکړې ، کښتونه ګرد سیلاب یو وړل ، کورونه رنګ شول اوخلکو د ناستی لباره ځای نه درلود. نورکالونه به موږ دعاوې کولې چې بارانونه وشي ، خو په هغه کال به زیاتره زموږ کلیوال په دې خاطر لاس په دغاوو چې بارانونه ودریږي او وریځې د لمر له مخې په نورو خواوو وکوچیږي. مو ږ زیاتې دعاوې وکړې ، له ډیرو دعاوو وروسته وریځې لرې شوې او بارانونه په و چه تیره واوښتل .

دخدای کارونه وو، داوړي په منځ کې وچکالي شوه ، خو کلیوالو چې د بارانو درزونه لیدلي وو ، ګردو ځانونه نه پوهول او هرڅه یې دخدای رضا ته سپارلي وو. زما نیکه هم اوس آسمان ته نه کتل ، او نه یې ویل چې ښنګه ده او ښنګه شوه ...

دبارانو او سیلابو غمونه لا نه وو هیرشوی چې زما نیکه ته بیا خدای یو بل نوی غم ور دغاړې کړ، په هم هغه کال ، زموږ د ګاونډي یوې خوروړې تورې سپی په یو وار اووه که آته کونګري وزیږول ، دا زموږ د کلیوالو لپاره یو نوې سردرد شو ، ځکه ګرده شپه به دهغو کوړنجا کلی په سر اخیستی و، دحیرانتیا خبره خو داوه چې په دې ګردو کونګریو کې یوازې یوه کونګرۍ وه ا ونورټول کونګري وو. زموږ په کلي کې له پخوا داخبره وه چې نارینه سپی ښه وي ځکه چې دوی کولای شي ، د کلي مالونه او رمې له لیوان او غلو وساتي . همداوجه وه چې ګردو یې هرڅه ته غاړه ایښې وه ، یوازې زما نیکه به کلبوالو ته داخبره کوله چې د ډیرو سپیو ساتل ښه نه دي ، په هغه ځای کې جې سپي اوپشیانې زیات وي ، هلته دملایکو تګ راتګ ، شور وشرنګ او برکت نه وي . دویمه خبره داوه چې دغه کونګري ټول نارینه دي ، چې لږ را لویکي شي ، نو اول خو به په یوه اوبل وربلوسي ، هرچا چې هریوپه خپل ګروت کې ونیو، بیا په دې نه پوهیږي چې داد محراب خان تورې سپی زیږولی او ټول دهغې بچیان دي ...

خو کلیوالو به بیا دا یوه هم نه ورسره منله ، ځکه چې هریوه اوس دهغو یویو په خپلو نومونوکړي ول ، ان هغه مهال چې یې لا لکۍ او غوږونه هم نه وو وربانديې پرې کړي ، دهرچا هغه معلوم و، ځکه زما د نیکه خبره چا نه اوریده او کلي دتورې سپی کونګریو په سر واخیست.

زموږ ګاونډي محراب خان نه ښه ویل او نه بد ، هغه یوازې یوه ټکي ته خوشاله و چې هرځای او په هرکلي کې همداخبره کیده چې :

- د محراب خان سپی ... او دمحراب خان کونګري ... رښتیا هم محراب خان اوس هرچا پیژاند او هرځای دده نوم و اودده د کونګریو ، دمحراب خان پلار اونیکه هم چاته نه وول معلوم ، یوازې دی و او دده دا اوسني له سپیو سره تړلی نوم ...

تردغه کال پورې زموږ کلیوالو دیوه او بل خبره اوریده ، دهریوه او هرکلیوال ځای په کلي او جومات کې معلوم و ، په ژمي به چې زموږ جومات تود شو، بیا نو ترپسرلي پورې هغه زموږ د زده کړو ښوونځي او روزنځی و ، زما نیکه به چې په خبرو راغی ، په خپلو خبرو کې به یې دنیا داسې سره ګزوله او لنډوله چې نن سبا دهغو شان خبرو ویونکو ته فیلسوفان وایی ، خو ده ان هغه وخت زموږ په هغه خاورین اوختین کلي کې تر فیلسوفانو هم درنې او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پخي خبرې کولې ، عبدالحکيم لالا ان هغه وخت په کلي اوکور کې په شاعر نامتو و ، چا به يې چې عزت ونه کړ، اويابه چې چا په کلي کورکي ناوړه کار وکړ، دده شعر به ور پسې روان و ، او زمزمي به يې هلته او دلته دهرچا ترخو لو اوريدل کيدې ، ان چې کله کله به يې سندرهم ويلې ، داسې چې دده په ښکلې غږ کې به يې ارواوې ژړولې ... په نيمو شپو را ووت له ځان سره به ناست او لنډۍ به يې ويلې ، زما ښه په ياد دي چې کله به ده په کوم نيمه شپه سندرې ويلې نو په دغې لنډۍ به يې پيل کوله :

دنيمو شپو پرکلي راغلم ،

په خو ب وليده آشنا به څوک را ويښوينه ...

ان له هم هغه وخته زما دالنډۍ په ياد ده ، اوس لړ لړ پرې پوه شوی يم چې حکيم لالا به هغه لنډۍ په هغه وخت کې ولې ويله ؟

دسيلابو او بارانو په کال زموږ دکلي ټول مشران خدای له موږه واخيستل ، زما نيکه هم په هم هغه کال مړشو ، دحکيم لالا به جنازه پسې هم زموږ اوښکې توبې شوې ، دکلي لوی ملا عبدالمنان هم له دغې نړۍ سترګې په پربله کړې ، همداوجه وه چې اوس نو هره ورځ موږ په نوي ملا اونوي طالب پسې دخدای لپاره نيتونه تړل ځکه چې چاره نه وه ...

هغوی ټول په هغه کال د باک الله په امر په خپلو خپلو لارو لاړل ، کلی پاتې شو او دمحراب خان د سپی کونګري ...

کونګري يو پربل پسې په لوېدو شول ، محراب خان ته خدای بې ښه او بده ورکړې وه ، ځکه پخوايي يوازې سپی په نامه وه ، او س دا يو ګله نور هم دده په نامه باندې ياديدل ...

زمو ږ پرکلي باندې لويه لار تيره وه ، پخوا به لارويان دکلا د دروازې دمخې پر لاره تيريدل ، که به ستومانه وو، دکلا په مخ کې به يې دچای او چلم خدمت نه قضا کيده، خو اوس به لارويانو ته زموږ ترکلی مخکې کلي کې داخبر ورکول کيده چې د کلي دمخ پرلاره ولاړ نه شي ، بلکې دکلي پرشا چې کومه لاره تيره وه پرهغې باندې بايد ولاړشي ، ځکه لارويانو ته به هم هرچا په لاره کې مخکې تردې چې زموږ کلي ته راوسيږي داخبره کوله چې د محراب خان سپی سږ بد خوروږي کونګري زيږولي ، ګرده په يوه وار لکه برښنا پر لاروي باندې را دانګي...

داخبره سمه وه ، ځکه موږ چې هرچيرې خپل ، خپلوان درلودل ، هغوی هم زموږ له کلي ښنه ونيوه ، کله به موچي پوښتنه ترې وکړه ، دوی به هم دمحراب خان د کونګريو د ډارخبره کوله ، داخو لاڅه کوي چې زموږ کليوال هم دوی ، درې ورځې چيرې نه شوای مسايرکيدای، ځکه دمحراب خان کونګري په داسې ليونيتوب کې شول ، چې دوی ، درې ورځې به يې کليوال هم پرله پسې ونه ليدل ، او بيا به يو په يو را څرګند شول ، نويو يرغل خو به خامخاپرې کيده ، په تيره بيا چې که به کوم کليوال په توکو ، هم دشکارلو قومانده ورکړه ، هو د شکارلو : وش کيشکيش ... مه يې پريږده ... !

زموږ کلي کرار کرار همداسې يو ګړی ا و يوازې پاتې شو ، آن چې په مرګ او ژوند کې هم چا زموږ د ښو او بدو پوښتنه نه کوله ، يو وارې ، سيدبی بی مړه شوه ، جنازه يې څوتنو په ډيره سختۍ سره تر هديرې پورې ورسوله ، بل وار علم اکا مړشو، دومره څوک نه وو چې دهغه خيرات يې خوړلی وای اودعايې ورپسې کړې وای ، داتولې او دې ته ورته نورې بدمرغۍ او ستونزې وې چې زموږ دکلي لمنه يې نيولې وه ، همداوه چې اوس به هروخت ټولو به يو ځای او بل ځای زما د نيکه خبره يادوله :

ـ ملک دي خدای وبښي هغه رښتيا ويل چې دډيرو سپيو ساتل د ملايکو ګوزر زموږ له کلي چيوي ...

خو اوس نه يوازې دملايکو لاره زموږ پرخوا نه وه ، او که وه هم ، نويوازې له عزرايله پرته بل چا پردغه لاره باندې تګ را تګ نه زړه نه ښه کاوه ...

»»»

دمحراب خان د سپی لورينه وه چې هر چا او هرګاوندي ته ترې يو يو کونګری ورسيد او په کلي کې د کونګريو سيالي پيل شوه ، دغلم اکا زامنو به ګرد کال خواري مزدوري کوله ، يو ګوله ډوډۍ به يې چې پيداکړه ، هغه به يې په سپيو خوړله ، هغه يې تر ځان او اولاد نازولې ساتل ، يوخويي يوځل چې جنګولي و، په ټولو کې نامي شوي و او ټول سيال سپي يې لرکړي وو . دمحراب خان زوي خو ځکه د سپيو ښه عزت کاوه چې له پلاره دا ميراث ورته پاتې و ، او نورو ته يې ددې چل ښودنه هم له پلاره زده کړې وه او دهغه په وياړونو کې راتله ، هو، هرچا همداسې يو ه يوه ښه يا بده ورتيا درلوده چې اوس يې يو يوسپي دځان حق باله ...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

زموړ کلی د غرونو په منځ کې د یوې هسکې پرسر پروت دی ، په لمنه کې یې زموږ دکلي ستړی ستومانه سنید کله کله لیونی لیونی کیده ، مازدیګر مازدیګر به یي پرغاړه دنګو او سالو والو پیغلو یوه بله په موټي اوبوباندې سره ویشتې ، او مازدیګری به یې په خنداوو ستړی کول ، په هغو شپو ورځو کې چې دمحراب خان سپې زموږ کلي ته غمونه نه وو را وړي ، زموږ کلي هم په آرامی کې ساه ایستله ،زموږ دکلي له ځوانانو څخه په هغو شپو ورځو کې دملاقادر یوازنی سرټکونه داوه چې هلکانو ته پلرونه څه نه وایي ، ټوله ورځ خوسی کوي ، او بیدی ګټې، اوپه توپ ډنده سره اخته وي ، خو اوس چې دسپیوجنګولو شپې وې ، پلرونه خو څه کوې چې ملاقادر اخوند هم پرخوله لاس نیولی و، ځکه چې چایي پرخوله پیازهم نه خوړ، سپي جنګونه ، دلاری د سر پرمساپرو دسپیو یرغل، دانو زموږ دهغه کلي چې کیسه مې یې درته وکړه ، اوس ورځنی بوختیاوې وې ،هرچا به له لرې لرې ځایونو سپي را وستل او دلته به یې جنګول ، کرار کرار خبره دې ته ورسیده چې زموږ زیات کلیوال هم په دغو بدمرغیو کې سره ووژل شول ، خو دسپي لوبو (سګ بازی ) میدان هماغسې تود و. په کلي کې دسپیودهنګامې او چتیا ، زموږ د کلي د زوال او سر ټیټتیا پیل و ، ځکه اوس زموږ په کلي کې پرته له دې چې د یوه ا وبل دسپی کیسې خورې وې ، نور ویاړ اوڅه نه وو، جالبه خو لا داشوه چې محراب خان هم یوسهار د اوداسه پر سر همدغو خپلو سپیو چې دهرڅه ویاړ یې ده ته رسیده وداړه ، په میاشتو میاشتو په کورکې ولوید، خدای شته چې دمحراب خان پیښې لړ او ډیر زموږ د کلیوالو سرته عقل ور ووست، او دکلي دبدمرغی په سپیره ښکالو باندې پوه شول ، خو داچې زیاتره کلیوال او س لکه رانده د مردارو اوبو پرډنډ ور لاشوي وو، نو له شرمه یې یویو غړپ هم باید ترې کړې و څوېې نندارچیانو ته ښودلي وای چې دوی ګواکي ړانده نه دي...

زموږ په کلي کې اوس هیڅا هم دانه ویل چې داسپی ښه دي ، دابه زموږ مالونه له لیوانو وژغوري ،ځکه د روز الدین اکا خر خو دهمدغو سپیو په شور ماشور کې لیوانو پرهوا کړ، هغه خر چې د دوی لاس او پښه و، پرهغه ورځ یې چې میرمنې دهغه له لیوانو پاتي شوې مړزګی نندارہ کوله ، هم یې ورته ژړلی یې وو ، او هم داسې ښکاریده چې په هم هغه ورځ یې بې ننګه سپیو ته یوڅه شونډې هم چیچلې وې ...

څو ورځې وروسته دعلم آکا د زوي نامي سپی لیونی شو ، دوې ښځې او دوه ماشومان خو دهغه له داړلو وروسته د مرګي میلمانه شول ، ورپسې د سردارخان هغه لیونی شو، څو غواوې او امیرګل آکا هغه وداړل چې تر ډاکتر پورې ونه رسید، همداسې دخدای کارونه ول چې په سپیو لیونتوب را ولګید، خو هیچا هم باور نه کاوه ، چې د دوی نازولو سپیو ته ور نژدې کیدل مرګ ته په لوی لاس هرکلی ویل دي، یو ه خوا خو زموږ دکلیوالو ناپوهي وه او بله خوا په سپو دومره مینه چې هیڅوک هم په دې باور نه وو چې د (لیوني سپي ) داړل ، به یو په یو لسګونه جنازې زموږ له کلي باسې ...

په پټه کې ددې ټولو مرګونو پړه د روز الدین اکا پرمیرمن ور اچول شوې وه ، ځکه چې ټولو به همدا ویل چې هغې دخپل خره له لاسه ورکولو وروسته دغو بی ننګو سپیو ته خپلې شونډې تر غاښو لاندې کړې وې ، ټو لو همدا ویل چې دې سپیو ته کوم څه په ډوډی کې ورکړی ځکه لیوني شول او کلیوال یې وداړل ، یوه یوه خو به داهم ویل چې زموږ خو هرڅه ، زموږ دکلي هرڅه په سپیو او دهغو په اتلولي ؟ پورې تړلي وو ، دوی به سره ویل چې که دا سپي نه وي په والله که بیا زموږ د کلي نوم هم څو ک واخلي ...

دسپیوغم هرچا کاوه او هرڅه یې په هغو پورې تړل ، خو داچې زموږ نیم کلي برباد شوی و او جنازه په جنازه پسې ترې وتله ، دې ته له برام خان اکا پرته دبل چا ژړا هم نه راتله ، برام خان اکا زما د نیکه همزولي و، د دوی دواړو ځایونه په جومات کې معلوم وو، هو، په جومات کې ! هغه مهال چې زموږ جومات لا دشهادت جام نه وڅښلی ، دهرچا ځای په کې معلوم و، برام خان اکا دکلي په هرشي باندې خبر و، او دا اوږده کیسه یی ګرده ګام په ګام په کلي کې ، پرکلي باندې څارلې وه ، هغه مهال چي د سپیو د لیونتوب اومرګ لړی روانه وه ، یو ه ورځ چا داخبره هم خوره کړه :

ـ برام خان اکا په سکښتی کفن پروت دی ،

موږ یوڅوګوډ او ړانده چي په کلي کې دچا خبره (دسپیو او سړو ) په ښکیل تقدیر ته سترګې په لار وو، ورغلو ، هغه په رښتیا هم په سکښتي کفن پروت و ، خو له خبرو لا نه و لویدلی ، ځکه یې همدا ترخوله راوته :

(سپي ... سپي ... لیوني ... سپی باید مړه شي . کلي ... کلی ... همدغو )

دبرام خان اکا دغه حالت موږ ته ژړا راوستې وه ، ژړل مو، زما د سلګیو آواز یې واورید، سترګې یې را پورته کړې ، لمر د کړکی له هنداري دده پرمخ را لویدلی و ، ویي رپولې ، خو ترهغو یې چي خپل وچ کلک لاس خپلو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

سترګو ته ونه نيو ، زه يې نه ليدم ، کله يې چې پرما سترګې ولګيدې ، ډيرنارامه شو، لاس يې را اوږد کړ او زما سريې په خپل ريږديدلی لاس کې ونيو:
ـ ملک دې خدای وبښي ، هغه رښتيا ويل چې د ډيرو سپيو ساتل ، زموږله کلي دملايکو ګوزر چيوي ...
ده لا خپله خبره پای ته نه وه رسولې چې کوم يو غږ پرې وکړ :
ـ دمحراب خان توري سپی سږ بيا دوه نور زيږولي...
اکا بيا حيران حيران ورته وکتل کله چې درد ورغئ ، په زوره يې ترخوله راووتل :
ـ پسات همدغي جوړ کړی ... هو همدغي ...
څو شيبې په فکرکې لاړ ، بيرته يې دخپلې خبرې دوام سره وويل :
ـ خدای لوی پا چا دی ، ددې دوو په اړه يې هم فکرمه کوئ ، ترهغو چې دداړولو کيږي ، دوی به هم پرهغو نورو پسې ځي ... ليونتوب بد شي ...
لمر يې سترګې بريښولې ، موږ په هغه ورخ ترډيرو پورې ورسره وو ، دوې ورځې وروسته دبرام خان اکا جنازه هم زموږ دکليوالو په لسګونو ... سلګونو ... او زرګونو هغو پسې زموږ له کلي ووته ؟ خو دسپيو د ليونتوب اومرګ سلسله لا روانه وه ، اوموږ څو ګوډو ړندو چې تقدير تراوسه هم دهغو له شر او څپاوه ژغورلې وو، شپه او ورځ د برام خان آکا وروستی دعا په خپلو سره ويله :
ـ خدای لوی پا چا دی ... خدای لوی پاچا دي ...
نوی ډيلی
۱۳۷۷ کال دغوايی مياشت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ